# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۷۸ ګڼه / پنجشنبه ۲۸ رجب‌المرجب ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۹ دلو ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۸ فبروری ۲۰۲٤ میلادي


## په کابل کې د ازبيکستان سفير، د بهرنيو چارو وزارت له سرپرست سره وکتل

په کابل کې د ازبکستان سفیر خواجه یادګار شادمانوف، د هېواد د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست مولوي امیرخان متقي سره وکتل.

باختر آژانس ته د بهرنیو چارو وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه



کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په لوړه کچه د پلاوو پر تګ راتګ، دوه اړخیزي سوداګرۍ او له قرارداد سره سم افغانستان ته د وارداتي برېښنا پر لېږد هر اړخیزې خبرې شوې دي.دغه راز د بهرنیو چارو وزارت سرپرست، د افغان ٥مخ

## برگزاری نشست بزرگ مردمی در تالار لوی جرگه




نشست بزرگ مردمی زیر عنوان«استحکام نظام اسلامی و وحدت ملی» با حضورِ مقامات بُلند پایه‌ی امارت اسلامی، علما و بزرگان ۷ ولایت مرکزی کشور برگزار گردید. در این نشست بزرگ مردمی بزرگان و علمای ۷ ولایت کشور نظام اسلامی را آرمان و آرزو دیرینه‌ی مردم افغانستان گفتند که اکنون شاهد نظام اسلامی در کشور هستند.این بزرگان نیز اشاره نمودند که در بیست سال گذشته ۳٤ میلیون افغان، توسط یک مُشت انسانها خود فروخته شده گروگان ص٥

## د اکتوبر د ۷مې ۲۰۲۳ تر ۷ فبروري ۲۰۲۴؛ غزه کې د رواني جګړې زیانونه



غزه کې د صهیونستي پوځ او د حماس غورځنګ په ګډون د فلسطیني جهادي ډلو ترمنځ د رواني جګړې پوره ۴ میاشتې اوړي او تر دا مهاله یې ګڼ مالي او ځاني زیانونه اړولي دي، چې د ډېرو هغو مسول یې اسرایل او د هغه ملاتړي هېوادونه لکه امریکا دي.

غزه کې د رواني جګړې (۷ اوکتوبر ۲۰۲۳ تر ۷ فبروري ۲۰۲۴) ځاني **زیانونه:**

–د غزې ټول نفوس ۲،۳ میلیونه تنه دی، چې ۴۷ سلنه یې ماشومان دي، له دغې ډلې ۸۵ سلنه یې له خپلو مېنو بې ځایه شوي٥مخ

### د عامې روغتیا وزارت سرپرست:

## روغتیایي خدمتونه به له نړیوالو معیارونو سره برابر شي



د هېواد د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو له وضعیت څخه د کتنې او د روغتیایي سکتور پر وړاندې د شته ننګونو د اورېدو په موخه جوزجان ولایت ته سفر کړی دی.

ډاکټر قلندر عباد د جوزجان له ډاکټرانو سره په لیدنه کې وویل چې ټول روغتیایي پرسونل باید د غوره روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هلې ځلې وکړي او موږ هم د هېواد لرې پرتو سیمو ته د روغتیایي خدمتونو د غځولو زمینه برابروو. نوموړي زیاته کړه د روغتیایي٥مخ

## د کورنیو چارو سرپرست وزیر د خوست ملکي تخصصي روغتون څخه لیدنه کړې




د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني او ورسره مل پلاوي د خوست ملکي تخصصي روغتون ته تللي او هلته یې د ناروغانو د احوال اخیستنې ترڅنګ د روغتون له مسؤلینو سره هم کتلي.ورته وخت کې د خوست د عامې روغتیا ریاست سرپرست ډاکټر ګل صاحب شاه په دې ولایت کې د روغتیایي وضعیت په اړه معلومات وړاندې کړي.دغه راز د ملکي تخصصي روغتون آمر ډاکټر سخي سردار وویل، چې یاد روغتون د پنځه سوه کسانو لپاره د سل بسترونو ظرفیت په اندازه جوړ شوی، خو اوس مهال د خوست د دوه میلیونه وګړو سربېره د پکتیکا او پکتیا ولایتونو ناروغان٥مخ

## معاون اول وزارت دفاع ملی از بخش های مختلف قوماندانی صحیه ستردرستیز دیدن کرد

ملا محمد فاضل «مظلوم» معاون اول وزارت دفاع ملی از بخش های مختلف قوماندانی صحیه ستردرستیز وزارت دفاع ملی دیدن کرده و از خدمات و زحمات کارکنان طبی آن قوماندانی درمر خدمت به بیماران قدرانی کرد.او همچنان متعهد شد که به حل مشکلات کارکنان طبی این قوماندانی می پردازد.



## یو چینایی شرکت غواړي په افغانستان پانګونه وکړي



د «ینکي» شرکت مسئولینو د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له سرپرست مولوي غلام حیدر شهامت سره په کتنه کې، په هېواد کې د حرفوي زده کړو په برخه کې د پانګونې لېوالتیا ښودلې ده.باختر آژانس ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې د «ینکي» شرکت مسئولینو ویلي چې د چین له لوري افغانستان ته رالېږل شوی، ترڅو په افغانستان کې د حرفوي زده کړو په برخه کې پانګونه وکړي.

هغوی د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړي او زیاته کړې یې ده چې اساسي٥مخ

## د انسان په ژوندانه کې د اوبو اهمیت

۲ مخ

## د جنت نعمتونه او جوړښت

۳مخ

## زه هم یتیم یم

٤ مخ

### سرمقاله

## نړۍ په غزه کې د صهیونیستي رژیم له خوا د فلسطینیانو د قتل عام ننداره کوي

له څلورو میاشتو راهیسې چې په فلسطین کې د مظلومو بې دفاع ولسي وګړو باندې کوم بې دریغه قتل عام چې د صهیونستي رژیم له خوا روان دی، یقیناً هېڅ سلیم عقل او بشري فطرت ته د منلو او زغملو وړ نه دی، خو په اوسنۍ زمانه کې د ګردې نړۍ پر مخ د ماده پرستۍ او حیواني هوسونو یو بې کنټروله توپان ټول بشري اخلاق او عواطف له منځه وړي ځکه اوس د نړۍ ټول زورواکي مترفین او مستکبرین آن د تي خورو ماشومانو ، عمر خوړلو بوډاګانو او د ځنګندن پربستر پرتو ضعیفو ناروغانو له وحشیانه وژنو هم خوند اخلي،خو په همدې حال کې بیا تر دې زیاته د افسوس خبره داده چې همدغه انتهایي او بې ساری ظلم او وحشت د یو داسې امت په عین مرکزي سیمه کې روان دی،چې د سپېڅلي دین ښایسته لارښوونې یې خپل ټول منونکي یو داسې اخوت او خواخوږۍ ته رابولي،چې کاملاً یې ایکي یو جسد بولي دا هم بیا په داسې حال کې چې ټول امت یا د خپل ځان د همدغه سپېڅلي دین منونکي،ساتونکي او خادمان هم بولي! اوس دې نو هر منصف او د عقل څښتن خپل ګرېوان کې سر ښکته او محاسبه وکړي چې آیا دا ډول مسلماني به هم څښتن تعالی ته منظوره وي او آیا داسې وګړي واقعاً د اسلام ٥مخ

### وزارت مهاجرین:

## سهولت های لازم به مهاجرین مدنظر گرفته میشود

وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان،نشستی‌رابه‌منظورهماهنگی میان نهاد های داخلی و موسسات همکاردرگذرگاه‌تورخم‌برگزارکرد.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان با نشر خبر نامه یی گفته است: دراین نشست،نماینده گان موسسات همکار گزارش از فعالیت خود دادند، نمایندگان شورای مهاجرت ناروی و دنمارک مشکلات شان را از ناحیه نبود جای مناسب مطرح نمودند، نماینده موسسه ‹ اچ ای آر او› نیز مشکلی را در مورد افراد زیر سن که تبعه پاکستان هستند و از ایران به افغانستان فرستاده شده اند که و پاکستان اجازه بازگشت شان را نمی دهدمطرح‌نمود.

بخت جمال گوهرخدران ،آمر انتقالات عودت کنندگان درتورخم متعهد شد که برای حل مشکلات مطرح شده اقدام خواهد شد.

## تخریب کارخانه تولید مواد مخدر در فراه

پولیس مبارزه با مواد مخدر در فراه،هفتاد شش کارخانه تولید مواد مخدر را تخریب و یک صدو چهارده تن را در پیوند به آن بازداشت کرده اند.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله با نشر این خبر گفته است:پولیس مبارزه بامواد مخدر قومندانی امنیه فراه در ادامه روند تخریب کشتزار خشخاش وکارخانه های تولید مواد مخدر درآن ولایت، ۷٦ کارخانه موادمخدر را آتش زده و ۱۱۱ جریب کشت زارهای خشخاش را تخریب کرده اند و ۱۱۴ تن را در پیوند به آن بازداشت کرده اند.

## توزیع مواد مغذی به بیش ازصد هزارکودک درپروان

یک نهاد کمک رسان، برای بیش ازیک صدهزارکودک، مواد مغذی توزیع کرد.موسسه تحقیقات علمی و انکشاف جامعه از طریق پروژه‌ی ارایه خدمات صحی خود برای ۱۰٦ هزار طفل زیر سن پنج سال، ۲۱۲ هزار قطی پودر ام، ان، پی را جهت وقایه و مبارزه با سطوح مختلف سوی تغذی توزیع کرد.حافظ مجیب الله رحیمی رییس اقتصاد پروان به آژانس باخترگفت: این موسسه در کنار آن که برای هزاران کودک پودر وقایوی را توزیع کرد، ۱۵ تن را به عنوان مشاور تغذی، همکار و نرس در سطح مراکز صحی این ولایت استخدام کرده است.

## هلمند کې د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل کېږي



د هلمند دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د ملګرو ملتونو دخوړو او کرنې اداري په مالي او د ډنمارک کمېټې په تخنیکي همکارۍ ددې ولایت د نادعلي ولسوالۍ پر ۷٦۸ مستحقو بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخونو او کیمیاوي سرو وېش لړۍ پیلوي.دغه مرستې هغو بزګرو ته ترسره کېږي٥مخ

## جهادي خاطرې

# د نظامي شهید دژوند وروستی شیبې

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

دسپوږمېز کال ۱۵/۹/۱۴۳۰ د روژې میاشت پنځمه اود ۱۴/۶/۱۳۸۸ لمرېزکال ټکنده غرمه ۱۲بجې وې دپشترود ولسوالۍ اړوند دګوشې کلي کې و، دامریکایانو زغره والي شوبلې ښکاره شوې چې دکلي پرخوا رو روانې وې.

مجاهدین هم ورته آماده شول. سخته جګړه ونښته .غرمه وه سخته ګرمي وه، موږ روژې ماتې کړې خو یوه ملګري مولوي نظام الدین نظامي (تقبله الله ) د روژې دماتولو نه ډډه وکړه، چې اوس لاوختي دی. د جګړې دواړو لوریو پریوبل درنې ډزې روانې وساتلې.

غلیم له هرې خوا دمجاهدینو تردرنو ګوزارونو لاندې و، ددښمن مرستې ته ایف ۱۶ بم غورځوونکې اودرون الوتکې را ورسېدې ،نظامي شهید یوه لوړ بام ته وخوت زه هم ورپسې وختلم، سمدستي یې چېغې کړې امریکایان دي امریکایان ،پلي روان دي دثقیل پرماشه یې ګوته کښېښودله څو کلکې ضربې یې پرې ووهلې.

ماته یې مخ کړ : مولوي صاحب ! هاغه دې ګوره دڅو دانو کارمې وکړ ما ورته وویل : راځه کښته شو دښمن مو ځای کشف کړ، ده په کټ کټ خندل!! په دې کې دغلیم یوه مرمۍ راغله اوپه ټټریې ولګېده . په داسې حال کې چې لا دخندا اثر په خوله کې پاته و، داجل داعي ته یې لبیک ووایه. انالله وانااليه راجعون . وروسته خبر شوو چې دهمدې بام دقتل شوو امریکایانو وینې په ناوه کې بهېدلې اولاندې ځمکې ته څڅېدلې وې.

څرنګه چې جګړه اوږده شوه موږ دکلي نه پرشاتګ وکړ. شهید نظامي مو ترڅو سرایونو راتېر کړ اوپه یوې خونه کې مو کېښود کله چې دښمن له ساحې ووت نو مازدیګر مو دشهید نظامي له سیمې نه رانقل کړ.

مولوي نظام الدین نظامي شهید دفراه ولایت ، فراه رود ولسوالۍ د وریې دکلي اوسیدونکی و زړور او با شهامته مجاهد و چې د ۲۱ کالو په عمر د روژې پر ۱۵ ،کال ۱۴۳۰ سپوږمېز دغرمې دولس بجې د امریکایی ځواکونوسره په مخامخ جګړه کې دشهادت لوړ مقام ته فائز شو.نحسبه کذالک والله حسیبه.

په دې جګړه کې شهید ملا عبدالسلام آخوند د پشترود دشا مبارکې د کلي اوسیدونکی اوډېر نیک انسان و، هم په شهادت ورسېد.

# د انسان په ژوندانه کې د اوبو اهمیت

**حیات الله حلیم**



ژمي نږدې نیمایی شوی و اود خلکو هغه اندېښنې چې د اورښتونو د نشتوالي له امله یوڅه زیاتې شوې وې الله پاک د سلواغې د میاشتې په ۱۴ او ۱۵ نېټه په خپل لطف ، فضل اوکرم د هېواد په مرکزاو ولایتونوکې تربرف ته ورته تخمین ۱۶ سانتي متره واورې را واورولې چې د هېوادوالواندېښنې ترزیاته بریده ورسره رفع شوې د الله پاک دربارته هیله شته چې په را تلونکې کې نوراورښتونه هم مهرباني کړي ، واورې اوباران د اوبومنبع ده اواوبه نه یوازې د ژوندیو موجوداتو ... چښلولپاره اړینه ارتیا ده بلکې په کرنیزسکتورکې هم اوبه ترټولولوړارزښت اواهمیت لري ځکه کله چې دسترخوان ډک او ډوډۍ پریمانه وي نوبی اختیاره سندره هم زمزمه کېږي ، له اکسیجن اود چښاک له اوبو وروسته د انسانانو ترټولومهم اواساسي دوهم ضرورت غنمینه ډوډۍ ده چې په افغانستان کې دټولوخوراکي توکوپه رآ س کې راځي اواستعمال یې زښته زیات دی دا ځکه چې په غنموکې د انسان د بدن هغه اساسي اړتیاوې موجودې دي چې د انسان بدن لپاره حیاتي اهمیت لري ، یوترټولوبل مهم صفت چې په غنموکې پروت دی هغه دادی چې دبل هرشي له زیات خوراک څخه د انسان زړه توربږي خوله غنموهېڅکله د چا زړه نه توربږي . د غنموبله ښېګڼه دا هم ده چې له پروسس وروسته د غنمو پروړه هم دحیواناتود تغذیوي توکوپه سرکې راځي ، لنډه داچې غنم د کرکیلې په ذریعه د کرنیزې مځکې محصول دي اوپه مځکه کې دهرې دانې کرکیله بیا اوبوته اړتیا لري چې ددې ځنځیري لړۍ د تعامل په صورت کې سرآنجام دې نتیجې ته رسیږوچې (اوبه ) نه یوازې دحیوان اود انسان په ژوند کې د چښلواونظافت درعایت لپاره لوړاهمیت لري ، بلکې د کرکیلې اونوروصنعتي خدمتونولکه دبریښنا تولید اود نوروقوي ماشینونوپه حرکت را وستلولپاره د انسانانولومړنۍ خدمتګاره منبع ګڼل کېداي شي چې په ډېره نرمۍ یې خپل ځان د انسانانو پرواک کې ورکړی دی اورنګا رنګ خدمت ورته کوي ، آن تردې چې پخوانیوساده ژرندو به هم د اوبوپه انرژۍ غنم اوړه کول اوپایکوګانوبه له شولو ورته وربجې را ایستلې .

د اوبوخدمتونه بشرته بیشماره دي ، اوبه دي ، چې غلې دانې پریمانه کوي ، میوه لرونکې اوبې میوې ونې ثمرته رسوي ، دژوند چاپیریال له میل سره سم ښیرازه کوي ، خوپه دې شرط چې په ملي کچه یې هم سم مدیریت وشي اوله هېواد څخه د وتونکوسیندونواوبه دیوه سم اوعلمي مکانیزم په ترڅ د هېواد په داخل کې دبندونواوډنډونودجوړولوپه ذریعه پټم اومهارشي .

لویه ستونزه داده چې افغانستان د نړۍ په یوه داسې (لوړه ) جغرافیا کې واقع دی چې څلورطرفه ترې څپانده سیندونه وځي اوموږ ترې پریږدي ' په دې اړه موږ نورڅه نه وایو یوازې دا څرګندونه کوو چې که چېرې د اوبو دنړیوالو قوانینو په دننه کې زموږ د سیندونو لپاسه بندونه جوړشي اود اوبوسم مدیریت وشي په یقیني ډول به دغلودانوله پلوه افغانستان د آسیا دغنموپه (ګودام) بدل شي اوهمدا رنګه به د بریښنا د تولید په برخه کې د نړۍ ممتازهېواد وي.

د نړۍ په هرهېواد کې چې لوی سیندونه بهېږي لومړی هغه هېواد چې سیند ترې سرچینه اخیستې وي په خپلوکرنیزومځکوپه اعظمي توګه د اوبود استعمال حق لري اوکه دبرېښنا د تولید دفابریکو جوړولو امکانات د سیند لپاسه موجود وي نوپه خلاصو مټود برېښنا د تولید فابریکې پرې جوړولې شي ځکه کله چې د څړموني او یا د کال په هغه فصل کې چې اورښتونه زیات وي سیلابي اوبه د سیند ساحلونه په مخه کوي نو کله چې د سیند له وجې زیات زیان ورته تکیه دی نو له مزایاوو یې هم په لومړي ګام کې حق لري دا روښانه ده چې دڅړموني په مهال په سیلابي شرایطو کې له هېواد ه د اوبوبی ګټې وتل اوترڅنګ یې د ساحلونو په ورلو سره د زیان تکیه کېدل هغه څرګند حقیقتونه دي چې ټول یې د سرپه سترګو وینو.

د هېواد تکړه څېړونکي حبیب الله رفیع ۴۵ کاله د مخه ویلي و «زموږ اوبه ، زموږ آبرو» څومره ښکلې اوله مفهوم نه ډکه خبره ده ، رفیع په دې مانا دا خبره نه ده کړې چې موږ د اوبو پریمانه زیرمې لرو نوموځکه آبروپرځای ده ، نه ، ټول هېواد چې سیندونه ، سیندونه شي ، خواوبه یې مدیریت نشي ، زموږ آبرو، نه خوندي کېږي ، له پورتنۍ معقولې نېک تعبیردادی چې د هغه چا آبروبه پرځای پاته او خوندي وي چې د فقرلاس یې چاته نه وي اوږد ، اودیوه ملت لاس هغه وخت فقرته نه اوږدیږي چې هېواد یې په اقتصادي لحاظ بسیا اوپه ځان متکي وي ، زموږ بشپړیقین دی چې افغانان په وچه ډوډۍ ماړه شي دنورونعمتونوغم نه ورځي ، خواشیني دلته ده چې په هېواد کې موڅپانده سیندونه بهېږي خود اوړوکندو موپه ګاونډیوهېوادونوکې دی ، که یې زړه شي غله را لیږي اوکه یې طبعه خټه شوه په ډېره آسانۍ دغلو دانوداسوداګریزه روزي پرافغانانوبندولی شي ، دا هغه عیان دی چې بیان ته حاجت نلري ، له نیکه مرغه چې د اسلامي امارت په حاکمیت سره اوس د عام ولس سترګې د قوشتپې کانال په جوړولو یوڅه غړېدلې او هیله ده نورد غلو دانو په برخه کې مو لاس چاته اوږد نشي ، په دې ټکي هم ټول هېوادوال پوهېږي چې که مود خپل هېواد دسیندیزو حوزود اوبومدیریت وشي په یقین به موهېواد دغلودانوپه ګودام بدل شي ، دا د هېواد په زړه سواندو چارواکوپورې اړه لري چې تر کومه بریده د اوبوپه مدیریت کې دوی له خپل اجرایوي صلاحیت نه کاراخلي.

# د سیلانیانو راجلبولوته باید پاملرنه وشي

**شاه محمود درویش**



افغانستان د خپل ښه جغرافیایي موقعیت له پلوه په ټوله کې د سیمې او نړۍ د سیلانیانو د راجلبولو لپاره ښه په زړه پورې طبیعي مناظر او لرغوني ځایونه لري، بناّ توریزم یا ګرځندوی برخې ته پاملرنه او په دې برخه کې پانګونه په ټوله کې د هېواد په اقتصادي عوایدو کې لوړوالی راولي، ځکه چې توریزم یا ګرځندوی برخې ته پاملرنه په حقیقت کې سیلانیان را جلبوي او ترڅنګ یې د هېواد عواید هم لوړوي، البته زمونږ هېواد د خپل ښه جغرافیایي موقعیت، پاک الله (ج) ورکړیو طبیعي ښکلاګانو، تاریخي او لرغونو ځایونو په لرلو سره د سیمې او نړۍ د سیلانیانو او ګرځندویانو د جذب ښه ځای دی، ځکه زموږ د هېواد ولایتونه په ټوله کې ډېر ښکلي طبیعي مناظر، په زړه پورې سیمې اوځایونه، بهانده او څپانده سیندونه، بندونه، بنونه، ځنګلونه، هسک هسک غرونه، تاریخي ځایونه او ... لري، چې دا ټول د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د را جلبولو وړتیا لري، باید هراړخیزه پاملرنه ورته وشي.

هیره دې نه وي چې توریزم یا ګرځندوی ډېری هېوادونو ته ښه عایداتي سرچینه ده، پردې اساس د نړۍ د سیلانیانو او ګرځندویانو له لورې د ډېر اهمیت وړ ګڼل کېږي، البته توریزم، ګرځندوی او سیاحت په حقیقت کې هغه دری مفاهیم دي چې په بیلابیلو ژبو کې یو مفهوم وړاندې کوي چې موخه یې د طبیعت له ښکلاوو، لرغونو آبداتو او لاسي صنایعو څخه لیدنه، کتنه او خوند اخیستنه ده .

په دې اړوند په ځینو لیکنو کې دغه برخې ته دا ډول اشاره هم شویده : « د توریزم وده په یوه ملک کې نه یوازې دلرغونو آبداتو او طبیعي مناظرو پر موجودیت ولاړه ده، بلکې له یوه ملک څخه د سیلانیانو لیدنه او کتنه د فرهنګونو تبادله او پرتله هم را منځته کوي خو هغه څه چې د سیلانیانو او ګرځندویانو هوا هوس را پاروي د یوه ملک طبیعي مناظر او لرغوني آبدات او جوړ شوي لاسي صنایع دي چې په دې اړه مهم رول لري.

د یادونې وړ ده چې په نړیواله کچه توریزم(ګرځندویي سیاحت) په ۱۸۴۰ میلادي کال د یوه ټولنیز پرمختللي حرکت په توګه د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې په فعالیت پیل کړی چې د زمان پر دغه مقطع کې افغانستان له انګریزانو سره د لومړي جنګ په درشل کې قرار درلود خو دغه حرکت په ټولو اقتصادي فرهنګي او ټولنیزو برخو کې ډېر ژر وده وکړه او د نړۍ د زیاتره هېوادونو او سازمانونو پام یې ځان ته راجلب کړ تر څو له یو سل او څلویښت کاله وروسته یعنې په ۱۹۸۰ کال کې د نړۍ د لومړۍ درجې صنعت په توګه یې خپل مقام تر لاسه کړ. د توریزم له برکته نړیوال مالي بیلا نسونه وخت پر وخت د تریلینونو ډالرو پورې لوړ شول د توریزم د همدې اهمیت له کبله د نړۍ هېوادونه زیار باسي چې د توریزمي فعالیتونو لپاره زمینه برابره کړي تر څو له دې لارې لوړ عواید په لاس راوړي. په نوره نړۍ کې په توریستي ځایونو کې د توریستانو لپاره رستورانونه، هوټلونه او د دوئ د امنیت لپاره لازم تدابیر نیول کېږي او یا په بل عبارت د سیلانیانو له غوښتنې او تقاضا سره سم دوئ خپل امکانات برابر وي.»

دې ټکي ته موباید پام وي چې د اوس لپاره افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په خپلو ۳۴ ولایتونو کې بیلا بیل ښکلي، په زړه پورې او زړه راښکونکي طبیعي مناظر، لرغوني آبدات او ډول ډول جوړ شوي لاسي صنایع لري، نوغوره خبره داهم ده چې الحمدالله د اوس لپاره په ټوله کې دهېواد په کچه امنیت تامین دی، نو له شک پرته دا ټول هغه څه دي چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه سیلانیان را جلبولی شي، بناّ د افغانستان اسلامي امارت د اړوند دولتي ارګانونو ترڅنګ خصوصي پانګه وال باید د هېواد په ګڼ شمیر ولایتونو کې د همت ملا وتړي او په بیلا بیلو برخو کې پانګونې وکړي او په ځانګړي توګه دسیلانیانو د راجلبولو لپاره مناسب اقدامات او لازمې آسانتیاوې را منځته کړي ترڅو دهېواد بیلابیلو ولایتونو ته د کال په مختلفو موسمونو کې د ګڼ شمیر سیمه ییزو او نړیوالو هېوادونو څخه د سیلانیانو دسفر په لړکې دولتي او خصوصي بنسټونو او په ټوله کې هېوادوالو ته هراړخیزې اقتصادي ګټې ورپه برخه شي.

هیره دې نه وي له کومو ځایونو څخه چې بهرني او کورني سیلانیان لیده کاته کوي، له شک پرته چې له اړتیا سره سم ګڼ شمیر هېوادوالوته د اقتصادي ګټو ترڅنګ کاري بوختیاوې هم رامنځته کېږي، لکه د سیلانیانو د تګ راتګ لپاره موټرونو ته اړتیا ده، د خوراک، څښاک او اوسیدو لپاره یې هم د هوټلونو شتون ډیر اړین دی، ددغه چارو تنظیم په خپله هېوادوالو ته دکاري بوختیاوو د رامنځته کیدلو ترڅنګ د اقتصادي ګټو د ترلاسه کولو زمینه هم برابروي.

# د جنت نعمتونه او جوړښت

**منیر(فاروقي)**

مخکې تر دې چې پوه شو، چې جنت څنګه ځای دی! کوم کوم نعمتونه په جنت کې شتون لري! د جنت ماحول څنګه دی! د جنت خوراکونه به څنګه وي! د جنت حورې او غلمان به څنګه وي او داسې نور. را به شو دې ته چې کله یو ماشوم د مور په ګېډه (نس) کې وي او هغه ته څوک ورنږدې شي او ورته ووايي: که چېرې ته د مور له ګېډې بهر راووځې، نو یوه لویه دنیا ده، په دې دنیا کې ډېر خوندور شیان لکه بوره، ګوره، شهد او ... شته. همدارنګه ډېر منور او رڼا ورکوونکي شیان لکه لمر، سپوږمۍ او برېښنا هم شته. پرته له یادو شیانو ښکلي پارکونه او چمنونه هم شته، ماشوم یې کله مني، ځکه چې هغه د مور په نس کې ماشوم ته د دنیا پراخوالی، خوراکونه او ښکلاوې کله معلومېږي؛ همدارنګه موږ انسانانو ته هم د جنت ښکلاوې، مزې، حورې، غلمان، مېوې، بنګلې او ابدي ژوند نه رامعلومېږي، ځکه چې موږ یې نشو درک کولی او د تعجب وړ راته ښکاري. الله جل جلاله فرمايي: ژباړه( یو نفس نه دی خبر په هغو نعمتونو باندې چې ما دوی ته د دوی د سترګو د یخوالي لپاره پټ کړي دي) مطلب په جنت کې داسې شیان شته چې سترګو لیدلي نه دي، غوږونو اورېدلي نه دي او ذهن یې تصور نه دی کړی. یو مثال به د جنتونو د لویوالي لپاره راوړم، تر څو مو ذهن خلاص شي؛ چې یو ادنا جنتي ته یې الله جل جلاله ورکوي. د قیامت په ورځ به الله جل جلاله د جنهم څخه یو ګنهکار بنده راوباسي او ورته وبه فرمايي: چې اې بنده! زه به تاته د دنیا په اندازه لس چنده ځای درکړم، نو دا بنده به وخاندي او حیران به شي، چې یا الله جل جلاله! دومره ځای چېرته دی او کله به دومره ځای پاتې وي!؟ دا خبره به ځکه وکړي، چې دغه بنده به جنت نه وي لیدلی، نو الله جل جلاله به د دنیا برابر لس چنده ځای او کور په جنت کې ورکړي.په لومړي ځل چې جنتیان جنت ته ننوځي نو د جنت دروازې به بندې وي، اولین کس به محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وي چې دروازه به وټکوي او د جنت متصرف ملک (خاذن) به ورته ووايي، چې څوک یاست؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته وفرمايي، چې زه محمدرسول الله یم، نو ملکه به ورته ووايي، چې الله جل جلاله ماته فرمایلي و، چې د جنت دروازه به یوازې محمد رسول الله ته خلاصوې نو له رسول الله څخه به مخکې هیڅوک جنت ته نشي ننوتلی. جنت اته او جهنم اووه دروازې لري، چې د جهنم اووه دروازې په قرانکریم کې بیان شوي او د جنت اته دروازې رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو مطهرو کې بیان کړي دي. د جنت یوې دروازې په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله بیان کړی، چې پراخوالی یې د مکې معظمې او حجر سیمې ترمنځ ښودلی، چې دغه سیمه شپږسوه کیلومتره مساحت لري، نو تاسو فکر وکړئ، چې جنت به څومره لوی وي. د جنت د دروازو مختلف نومونه بیان شوي د بېلګې په توګه: باب الصلوة، باب الجهاد، باب ریان، باب زکات، باب الحج او داسې نور. هر مسلمان چې په کوم عمل د جنت لایق ګرځېدلی وي؛ په همغه دروازه به جنت ته ننوځي. اوس به راشو د جنت جوړښت ته، چې جنت څنګه او له څه شي جوړ شوی دي.

د جنت جوړښت د دې دنیا سره ډېر توپیر لري. جنت کې لمر او سپوږمۍ نشته. له همدې امله هلته شپه او ورځ نشته. یخني او ګرمي نشته. معتدله او پاکه هوا به وي. که څوک پوښتنه درڅخه وکړي، ته چې وايې، جنتونو کې لمر او سپوږمۍ نشته نو رڼا به له کومه کېږي او جنتیان به د رڼا استفاده له څه شي کوي؟ ځواب دا دی، چې د جنت ماڼۍ الله جل جلاله دومره ښایسته او روښانه پیدا کړي، چې هره ماڼۍ به خپله رڼا لري دېته به حاجت نه پیدا کېږي، چې څوک هلته ګروپ او ډېوه ولګوي. همدارنګه که څوک معلوموول غواړي چې دنیا کې به شپه وي او که ورځ، دا هم معلومولی شي. د ورځې به د مثال په ډول د ماڼیو رنګ سپین وي خو چې کله شپه شي د ماڼیو رنګ به سور یا بل ډول شي نو جنتي به پوهیږي، چې د دنیا شپه یا ورځ شوه. د دنیا کور چې جوړیږي خښتو، تیږو، مسالو او خاورو ته ضرورت پیښیږي، همدارنګه د جنت ماڼۍ او نور ځایونه چې جوړ شویدي، یوه خښته د سرو او بله به د سپینو زرو په کې کارول شوې، په دنیا کې د خښتو ترمنځ مساله اچول کېږي، ترڅو ونښلي، په جنت کې به د مسالې پر ځای مشک او عمبر استعمال شوي وي او همدارنګه د جنت پر ځمکه به د خاورو او تیږو پر ځای به یاقوت او زمرود هوار وي. قدرمنو! په جنت کې بې شمېره نعمتونه شتون لري، زه به یې یو څو بېلګې بیان کړم.

۱– تر ټولو ستر او لوی نعمت، چې جنتیانو ته به له هغه څخه بل لوی نعمت نه وي او بل هیڅ شی به له دې څخه زیات ورته خوښ نه وي، هغه د الله جل جلاله سره ملاقات دی او د الله دیدار دی، یعنې د الله جل جلاله دیدار به جنتي ته ډېر خوښ وي. د رب متعال لیدل په دنیا کې محال او ناممکن دي. جنتیان به د خپل رب دیدن او ملاقات داسې مخامخ کوي، چې الله جل جلاله به خپل یو بنده ته ووايي: چې اې فلانکیه! تا په دنیا کې دا ګناه ونه کړه؟ نو بنده به ورته ووايي، چې یا الله ولې تا هغه راته معاف نه کړه؛ نو مهربانه رب به ورته وفرمايي: چې هو معاف مې کړه. مطلب دا چې جنتي به له خپل رب سره داسې مخامخ ملاقات کوي. یوه ورځ صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې موږ به په جنت کې الله جل جلاله لیدلی شو، نو رسول الله ورته وفرمایل: چې آیا تاسو د څوارلسمې سپوږمۍ لیدلی شئ؟ نو صحابه کرامو ورته وفرمایل، چې هو؛ نو رسول الله ورته وفرمایل: چې الله جل جلاله به همداسې مخامخ وینئ لکه د څوارلسمې سپوږمۍ. که چاته پوښتنه پیدا شي، چې آیا ښځې هم د الله دیدار کولی شي؟ځواب دادی، چې هو؛ ښځې به هم د الله جل جلاله دیدار کولی شي خو د سړیو سره یې فرق صرف دومره دی، چې ښځې به د رب دیدار په خپلو کورونو کې کوي او سړي به د الله جل جلاله دیدار ته ورځي، لکه د جمعې او اخترونو لمونځونه، ښځې یې په خپلو کورونو کې اداء کوي او سړي یې د ادا کولو لپاره جوماتونو ته ځي. کله چې جنتیان د الله جل جلاله دیدار څخه راشي، نو خپلې بیبیانې او حورې به ورته ووايي، چې کله ته د الله جل جلاله دیدار ته تللې، دومره ښکلی نه ښکارېدې خو چې اوس راغلې ډېر ښکلی ښکارې! نو جنتي به ورته ووايي، ولې به ښکلی نه ښکارم؛ زما ملاقات له خپل رب سره وشو.

۲– بل لوی او ستر نعمت په جنت کې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات دی.

۳– دریم لوی نعمت دا دی، چې د جنت نعمتونه هم همیشه دي او موږ به هم همېشه یو. په دنیا کې که نعمتونه وي خو د تل لپاره نه وي او که وي هم، موږ او تاسو همېشه نه یوو. مثلاً: ځواني او ژوند یو نعمت دی خو آخر ختمیږي او مړه کېږو.

۴– انسانان به جنت ته د دنیا په دې وړو قدونو او اندامونو نه داخلیږي، د هر جنتي قد به د ادم علیه السلام برابر وي، د ادم علیه السلام قد شپېته شرعي ګزه و او زموږ په اوسني مروجو ګزو دېرش ګزه و. عمر به یې د عیسی علیه السلام غوندې (۳۳) کاله وي، ځکه عیسی علیه السلام خپل رب په همدې عمر کې اسمانونو ته پورته کړی دی. صبر به یې د ایوب علیه السلام غوندې وي. ښایست به د یوسف علیه السلام د ښایست په اندازه وي، عالمان وايي: ښایست الله تعالی په دوه برخو وویشه، چې یوه برخه یې یوسف علیه السلام ته ورکړ او یوه برخه یې په ټولو انسانانو تقسیم کړ. د جنتیانو اوآز به د داوود علیه السلام غوندې ښکلی وي، د داوود علیه السلام اوآز دومره ښکلی و، چې کله به نوموړي د الله جل جلاله تسبیح ویلو؛ نو مرغانو، ونو، غرونو او ټول شیانو به هم ورسره تسبیح ویله. اخلاق به ورته د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ورکړل شي.همدارنګه د جنتیانو په بدن به وېښتان نه وي یعنې ګیره او د بدن نور وېښتان به یې نه وي.

۵– هغه عیبونه چې انسان یې په دنیا کې لري، په جنت کې به یې نه لري. مثلاً: یو سړی په دنیا کې پک یعنې ګنجی دی، بل سړی پیس مرض لري، همدارنګه ښځې میاشتنۍ مریضي لري، نو دا مشکلات به هلته نه وي، چې دا یو بل ستر نعمت دی. په جنت کې چې جنتیان خوراک وکړي نو بېرته به د هغوی له بدن څخه د خولو په شکل راوځي، ځکه هلته بولې او مرداري نشته. کومې خولې چې د جنتیانو له بدن څخه راوځي، بوی به یې د مشکو او عنبرو وي، د دې دنیا غوندې بد بوی به نه کوي. په جنتونو کې به د جنتیانو لپاره پاکې بیبیانې وي، له هر قسمه عیب څخه به پاکې وي، نه به په هغو میاشتنی مرض راځي او نه به هغوی له خپل جنتي خاوند څخه بل چا ته ګوري او په خپلو خاوندانو به میناني وي.

په یو حدیث شریف کې مې ولیدل، چې جنتي ته به یوه داسې ماڼۍ ورکړل شي، چې په هغه ماڼۍ که به اویا خونې وي او په هره خونه کې به یوه حوره وي او هره خونه به اویا دروازې لري چې له هرې دروازې به مختلف بویونه لکه د مشکو او عنبرو راځي. کوم شیان چې ما بیان کړل دا به د یو ادنا جنتي لپاره وي، کوم چې د الله جل جلاله ښاغلي او نازولي بنده ګان دي د هغو معلومات یوازې الله جل جلاله ته شته.کله چې د قیامت په ورځ جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته لاړ شي نو الله جل جلاله به جبرائیل علیه السلام ته امر وکړي، چې مرګ راوله! نو جبرائیل به لاړ شي او مرګ به د یو پسه(ګډ) په شکل راولي، د جنت او جهنم تر منځ به یې د الله جل جلاله په امر د اعراف په ساحه کې حلال کړي، د مرګ له حلالېدو سره سم به جنتیان خوشحاله او جهنمیان چیغې کړي، ځکه چې جهنمیان به تل تر تله په جهنم او جنتیان به تل تر تله په جنت کې پاتې شي. په جنت کې الله جل جلاله داسې یوه ماڼۍ پیدا کړې، چې د بهر طرف څخه به یې داخل لوری او د داخل لوري څخه به یې بهر لوری ښکاري، دا به یې د هغو انسانانو لپاره پیدا کړې وي، چې له خلکو سره په نرمۍ خبرې کوي، کله چې خلک ویده وي نوموړی به خپل رب ته په عبادت اودریږي او همدارنګه دوامداره روژه به نیسي. الله جل جلاله په قران کریم کې د جنتیانو لپاره د خادمانو یادونه کړې ( طواف به کوي په دې جنتیانو باندې جنتي هلکان یعنې غلمان) دا هلکان به د جنتیانو خدمت کوي، کله چې د یو جنتي اوبو، شیدو، شهدو او شرابو ته زړه وشي نو دغه جنتي هلکان به یې سمدستي ورته راورسوي. دغو جنتیانو ته به تل د شرابو څخه ډک ګیلاسونه ایښي وي، په جنت کې شراب حلال وي. د دنیا شراب انسان بې هوشه کوي، په سر او نس درد راولي، بد بوی لري او رنګ یې هم بد وي، خو د جنت شراب تک سپین ، خوږ او ښکلی بوی لري، انسان به نه بې هوشه کوي. په جنت کې د هر جنتي لپاره څلور بهېدونکې ویالې وي، چې یوه به د پاکو اوبو، بله د پاکو سپینو شیدو، بله د شهدو او یوه ویاله به د شرابو وي. جنتیانو ته به کباب کړي مرغان ، د ماهیانو او غویانو پخې شوې غوښې او هر هغه څه به وي چې د نوموړي ورته اشتها کیږي. د جنت نعمتونه ډېر زیات دي خو په اخره کې به د الله جل جلاله یو قول بیان کړم، چې معنی یې څه داسې ده: ستاسو لپاره په جنتونو کې هغه څه دي چې تاسو یې خوښوئ، هغه څه چې تاسو غوښتل در به کړل شي، دا به د الله له لوري میلمستیا وي). قدرمنو! موږ او تاسو به زیار باسو او نېک عملونه به کوو او همدا شان به د الله جل جلاله رحم او فضل غواړو تر څو موږ د جنت مستحق شو. بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړ او نېک عملونه یې وکړل، وي به دوی لپاره جنتونه، داسې جنتونه، چې لاندې به ترې نهرونه بهیږي او دوی به همیشه په دې جنتونو کې اوسېږي. بې زحمته راحت نشته زما وروره که راحت غواړې زحمت در لره بویه

# ماضي په حال کې
# د قرآن کریم درسونه؛ د امارت مسؤلیت دی!

**لیکنه: محمدعلي عظمت**

حضرت عثمان رضي الله عنه د عفان زوی دی، کنیه یې ابو عبدالله او ابوعمر، لقب یې ذی النورین دی، مور یې اروی بنت کریز نومیده، نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترور وه او په خپله عثمان بن عفان د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم هم و. د هغه دوې لوڼه یې یوه په بله پسې په نکاح کړې وې. عثمان رضي الله عنه د بنو اُمیه کورنۍ سره تړاو لرلو چې په قریشو کې د لوړ مقام او منزلت څښتان وو. عثمان رضی الله عنه له لومړنیو مسلمانانو څخه دی، چې اسلام یې راوړی دی. عثمان رضي الله عنه د مکې د مشرکانو له خوا ډېر کړاوونه وګالل او حبشې ته یې هجرت وکړ، له بدره پرته په ټولو غزاګانو کې حاضر و، د حدیبې د صلحې په مهال مکې مکرمې ته لاړ، په مدینه کې یې د مسلمانانو د اوبو د کمښت لرې کولو لپاره څاه واخیستله. ډېرې صدقې یې ورکړې او زیات مجاهدین یې مجهز کړل. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت وکړ، د دواړو راشدو خلیفه ګانو ملاتړی و، له هغوی سره یې مرسته کوله. چې دوهم راشد خلیفه ټپي شو، شپږ کسیزه شوری یې جوړه کړه، هغې شوری عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته واک ور وسپاره، نوموړي له اهل الرأی څخه پوښتنې وکړې او په پایله کې حضرت عثمان رضي الله عنه د خلیفه په ډول وټاکل شو، هغه نبوي مسجد ته راغی، وینا یې وکړه او خپله تګلاره یې په کې واضح کړه.

عثمان رضي الله عنه د مخکینیو راشدو خلیفه ګانو فتوحاتو ته ادامه ورکړه، ډېرې سیمې یې ونیولې او فتح کړې، د اسلام لمنه پراخه شوه، ډېر عجم په اسلام کې داخل شوو، د قرآن کریم د لوستلو په اړه د مسلمانانو ترمنځ اختلاف راغی، عثمان رضي الله عنه یو هیئت تشکیل کړ او څو مصاحف یې وکښل او چې له چا سره نور موجود وو؛ هغه یې وسوځول. ولې له بده مرغه چې دا حیاناک خلیفه د باغیانو له خوا کلابند او بیا په داسې مهال په شهادت ورسول شو، چې د علي کرم الله وجهه، طلحه رضي الله عنه او زبیر رضي الله عنه زامن د هغه د کور په دروازه کې پیره کوله. خو باغیانو د شا لوري کور سوری او دریم خلیفه یې شهید کړ. (۳۶هـ) د یادولو وړ ده چې باغیانو مدینه کلابنده کړه، لوی اصحابان یې له ګواښ لاندې ونیول، یعنې هغوی ته یې وویل چې خلیفه را وټاکئ، بیا هماغو باغیانو علي کرم الله وجهه خلیفه وټاکه، نوموړي خلافت ومانه، ځکه چې د خلافت حقدار هم و. باغیانو ډېر زیات کوښښ وکړ چې دریم خلیفه عثمان رضی الله عنه خلافت پرېږدي خو خلیفه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې ویلي و: «یا عثمان ان الله عزوجل عسی أن یلبسک قمیصا، فأن اراد المنافقون علی خلعه فلا تخلعه..». ژباړه: عثمانه! ښايي الله جل جلاله یو کمیس درواغوندي، نو که منافقانو له تا د هغه دویستلو اراده وکړه هغه مه باسه...! [ترمذي ۳۷۰۵]

سیدنا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دا خبره هغه ته درې وارې تکرار کړه. د ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم له زوم (دریم خلیفه) څخه باغیانو په تکرار دا غوښتنه کوله چې له خلافته لاس په سر شي، ولې هغه دا غوښتنه رد کړه او نبوي وینا یې رښتیا کړه. دریم راشد خلیفه قرآن کریم د مسلمانانو له اختلافه وساته، ویې لیکه او نور ټول یې د لویو اصحابانو په شتون کې وسوځول. که هغه په خپل وخت داسې ګام نه وی پورته کړی، نو اوس به د یهودو او نصاراو د کتابونو غوندې زموږ کتاب هم ګډوډ شوی و. اوس واک او ځواک د اسلامي امارت په لاسو کې دی، لازم دی چې له هر دیني مرکزه د قرآن کریم اواز واورو، که هغه لوی مرکز وي باید هلته د قرآن کریم ترجمه وشي، د کتاب الله تفسیر وشي، له هر دفتره مدرسه جوړه شي،ځکه په شل کلن اشغال کې هیڅ هم نه دي شوي، له مدرسې سره د یهودو غوندې دښمني شوې ده. په ساینس او ټکنالوژي کې ښه تکړه وي، خو له اسلامه نا خبر وي، دومره ساده او بسیطه پوښتنه به وکړي یا یې له خولې دومره عجیبه ناپړیته ووځي چې هغه د څلورم ــ پنځم ټولګي د دنیات په کچه وي!! له هر دفتره باید مدسه جوړه شي، ځکه د دین په لحاظ د کارمندانو سویه بیخي صفر ده، له هر څه مخکې لمونځ ورته پکار دی، زما د دفتر ځینې ملګري ناست وي، جماعت وشي، وروسته بیا لاړ شي الله ښه پوهیږي چې لمونځ کوي که زاړه یاران ګوري!! باید دوی ته لمونځ او د د اداء کولو طریقه ور زده شي، بیا داسې په ترتیب سره مخ په وړاندې لاړ شي. د عقائدو په اړه پوره معلومات ورکړل ي، ځکه د ډېرو عقیدې ناسمې دي. له هر څه وړاندې د عقائدو زده کول لازم دي. چې عقیده یې خرابه وی له هغه کارمنده څه نه جوړیږي! هغه د اسلامي امارت په کارونو کې هم اخلاص نه کوي او له ټګي بره ګي کار اخلي! د افغانستان اسلامي امارت دا دنده لري چې په ټول هېواد کې د مدرسو جال خپور کړي، علماء کرام په مدرسو کې په تدریس بوخت کړي، په ښوونځیو کې یې په معلمي وګوماري، ښه لوړ معاشات ورکړي، د ولایاتو له مرکزونو او له پلازمینې لرې یې په اطرافو کې د قرآن کریم په تدریس بوخت وساتي، یو زده کوونکی په داسې روحیه وروزي چې امامت هم کولی شي او د ادبیاتو، اجتماعیاتو او سایسني علومو درس هم ورکړل شي. له زده کوونکو هم ملا[ددین عالم] جوړ کړي او هم د ساینسي او عصري علومو معلم. ټولې دندې په مراکزو او پلازمینه کې اخستل دا تاوان لري، چې اطراف جاهل پاتې کېږي، حکیم الله جل جلاله دا امانت د دوهم ځل لپاره راباندې لورولی، د امارت چارې یې راسپارلې چې باید د اداء کولو چارې یې هم په احسنه طریقه سره وي؛ ځکه امارت زموږ ټولو امانت دی!

# شعر او ادب

## د وطن محبت

**ارواښاد ګل پاچا الفت**

د وطن په محبت باندې قسم خورم
چې د ځان له غمه زيات د وطن غم خورم
د وطن د شرف سپريم نه وېرېږم
که د تورو ګذارونه دم په دم خورم
دا خوږې ، غواړې کولې دې وي د نورو
د وطن د فاغ کښې زه ګولۍ د بم خورم
کفن نه غواړم د ژوند جامو کښې د رومم
د جنت باغ کښې مېوې رقم رقم خورم
دوطن پر هېز د بې ننګۍ له خورا کونو
په غيرت ګټلی شي به ولې کم خورم
د وطن داعتلا تږی يم ځکه
لکه ګل هره شپه څاڅکی د شبنم خورم
زه هغه يم چې تل ننګ په وطن خورمه
هغه نه يم چې رشوت سود او سلم خورم
چې په سر مې د وطن خدمت منلی
څه پروا ده که خپل سر لکه قلم خورم

## غزل

**منصور څاروان**

زه په حسن کې د حسن په مکان يم
که را ګرځې پس له مرګه هم امکان يم

ځانستان ته د دردونو په ګرداب کې
دومره لوی يمه چې سم دم بيابان يم

په کڼو غوږو، ړندو سترګو ولاړ يم
زه په خپل ځان کې نيمګړی غوندې ځان يم

د ړنګ ښار انځور مې کښلی په وجود ده
هيڅ رغېږم نه زه ورته ريګيستان يم

مړ پرستو په ژوندوني باندې خښ کړم
زه بې ياره سوم زه ځان کې قبرستان يم

دا ته څه وايې ما نه پېژنې ياره؟
راته وګوره قسم دی چې څاروان يم

## غزل

**حنظله**

له غلامۍ نه مې هم کرکه کېږي
له بېوسۍ نه مې هم کرکه کېږي
چې دالله په دين قربان نشي
داسې ځوانۍ نه مې هم کرکه کېږي
چې په سرو وينو ګټل شوې نوي
دازادۍ نه مې هم کرکه کېږي
داسې عبث داسې بې ځايه لاړه
له زندګۍ نه مې هم کرکه کيږي
نه پکې يار وي نه ديدن (حنظله)
بس له سپوږمۍ نه مې هم کرکه کيږي

# زه هم یتیم یم..!؟

**ليکنه: مدثر افغان**

اخ لا تر اوسه د بابک په شهادت ندی خبر.!! د دوستانو کور ته ددوئ د احوال اخيستلو لپاره ورغلم. ګورم چې د کور انګړ کې ګلالۍ ماشوم لوبو باندې په داسې حال کې مصروف دی چې ببر سر ، په خاورو او دوړو ګرد جن کالي يې لا نور هم ګردجن کول، خو د يتيم والي اثرات وربانديې له ورايه ښکاريدل ور غږ مې کړه څه شئ کړې وا احمد جانه را ويې کتل د موسکا په ډول يې راته وويل ساعت تيري کوم، ما هم دده دلوبو حالت ته تغير ورنکړ. يتيم احمد جان هم دا ونه ويل چې ميلمه راغلو نه!! نه!! هېڅ غبرګون يې ونه ښود لا يې ښه په خوند خپلو لوبو او ساعتيري ته ادامه ورکړه. نور مې د کور کوربانه ته د ددوئ د شتون او نشتون غږ ور وکړ. د شهيد د کور کونډې، نازولو يتيمانو سرپرست راووت هر کلئ يې راته وکړ. ما هم ورسره سترې مه شي، او ترې ومې پوښتل څه حال مو دئ په ژړغوني اواز يې را غبرګه کړه سوړ حوصلئ يې وکيښ، بس ژوند دئ تيروو يې!! ته يې هم وينې د يتيم احمد جان خواته يې وکتل زړه مې وردرديده نور د حرکت انرژي زما هم ختمه وه،دواړو د يتيم احمد جان په لور کتل چې لوبې کوي او کله کله په خپل فکر کې موسکا وکړي، دده موسکا نور هم د غم خواته يوړو. د شهيد جانان کونډې او نازولو يتيمانو سرپرست ته مې وويل اجازه ده زه هم له يتيم احمد جان سره د لوبو خيال ته لاړ شم.!! داچې دې حالت زيات وردردولو فقط د هو پشان د اشارې سر يې راته وښوراوه او بس.!!! د يتيم احمد جان خواته ورغلم ورته مې وويل شيرينه څه شی کړې دې خاورو،خځلو او دوړو کې په نازنينه وړه لهجه يې راته وويل. د تايې څه..!؟ځه لاړ شه ګوره! که مې پلار جان راغلو ورته وايم چې ما لوبو او ساعت تيري ته نه پرېږدي. نه!نه پلار جان ته دې ونه وايې هغه مې بيا خپه کوي.،هو لاړ شه ځه.!! احمد جانه ته ولې سبق نه وايې؟ احمد جان راته وکتل او ويې وويل زما قلم ،کتابچه او سپاره نشته.!! زه به يې درته واخلم راځه.!! نه پلار جان مې يې را وړي ته يې ولې راته اخلې؟ خير خو ډير به دې شي. نه!!نه!! بيا مې مور قهرجنيږي ماته هر وخت وايي له چا څه ونه غواړې.،پلار يې دې درته راوړي. ښاااا ته راځه دواړه داسې چکر ووهو،تر لاس مې ونيوو روان شوو. احمد جانه نور څه حال دی غورې راته وکړه.!! په ماشومه لهجه يې راته وويل د پلار جان ملګري مې راغلل زما پلار ته يې غږ کړ راځه چې چيرته لاړ شو... پلار جان مې نوې جامې واغوستې موترسايکل يې چالان کړ دده په ژبه توپک او جانته يې وا چول نور هاسې د دوکانو په لار لاړو. ښاااا احمد جانه راځه دوکان ته دې بوځم نوې کالي، خولئ،بوټان به درته واخلم بيا يې هماغه خبره کوله مور مې قهرجنيږي،او پلار جان مې يې راوړي. احمدجانه:پلار جان به دې راشي؟ هو.!!خود به راشي هغه يې له ملګرو سره جنګ ته تللی. افسوس افسوس لا يې ماشوم بچئ پدې نه پوهيږي چې پلار يې شهيد شوی. او دی يتيم شوئ. اه بلخوا د همدې يتيم مور جانې د ميوند د ملالې پشان خپل عزم کې د زرې تغير هم نه وو راوستلی لوږې، تندې،د يتيمو بچو وچې شوندې،زاړه کالي،شليدلي بوټان، او نور هغه څه چې دا هر وخت درد وي، او د خپل ژوند د خواږه ملګري د فراق شپې ورځې په مات او درديدلي زړه سبا بيګاه کوي. بيا هم ددې ملالې ميرانې د ويده ځوانانو د جهالت په خوب ويده ضمير ولې ويښ نکړ؟ چې حتا اوس هم مستعمره دي.؟ او همدا شان د يتيم چاودلو شونډو،ببر سر،په خاورو او ګردونو خړو جامو چې د چا ويده ضمير را ويښ نکړ؟بيا به تر مرګ را ويښ نشي. ګوره د وخت حاکم، مسئوله پام نازولي يتيمان،پتمنې تورسرې درنه هير نشي، دوی اوس هم د هماغه پلار بچيان او همغه اتل عرب عزام پشان د ژوند ملګري ملاله ده چې د ژوند تولې ترخې ،ناخوالې ستا د همغه ملګري د راتلو او تل تللي لپاره تيروي او په ده اتل بار خاورو ته شپې او ورځې سبا بيګا کوي.

نوټ: د يتيم نوم مې احمد جان ځکه ذکر کړئ چې د ليکنې توازون وساتل شي. چې چيرته تللی وم هغه يتيم احمد جان نه نوميږي.

# قلم څرخونه

**ليکوال: شفيع الله حقيار**




**«قلم بقا ده د سمون نښه ده لکه روڼ لمر چې د ژوندون نښه ده»** (زغم.ليکوالي، ۱۳۹۴: ۳)دا جمله ډېره خوله په خوله کيږي چې»قلم د فکر ترجمان وي.» مانا دا چې قلم د فکر له چينې د کاغذ په سپين مخ ځان راڅرګندوي او په خپله د شخص تجربې او هنر تعريفوي. بشر هڅه کوي چې خپلې ټولې په ژوند او اخرت پورې اړونده ښېګڼې او لاسته راوړنې د قلم په څوکه په ميراث پرېږدي او د زده کړې او کارونې ډول يې نورو ته وښيي. کله چې انسان د ښوونې او روزنې خبره کوي/اوري، د جوړښت، تهذيب او سمون مانا ترې اخلي، نه دا چې ځان يا بل د غم او درد کندنې ته ورټېل وهي. زه، ته او دی...بايد زده کړه وکړو! نورو ته يې ورزده کړو او عمل پرې وکړو! خو دا پوښتنې چې څنګه مو زده کړي يا يې زده کوو او يا هم څنګه يې چې نورو ته ښيو په همغه ډول مو له زده کړې، زده کړه کړې؟ ايا زده کړه لکه څنګه چې مناسبه ده مو کارولې؟ الله «ج» په خپل کتاب کې د قلم په اړه ويلي دي: « ن، والقلم ومايسطرون.» (القلم: ۱) انسان ته الله «ج» اختيار د حدودو په چوکاټ کې ورکړی دی، ده ته يې د يوه شي د کولو اراده او اختيار ورکړی او هم يې ورته د ځينو شيانو د منعه کولو امر کړی دی؛ ځکه خو انسان په ازموينه کې دی چې دی څه غواړي ويې کړي آيا خپل مسوؤليت لکه څنګه چې ورته ښودل شوی ترسره کړی يې دی او که نه؟ کوم اختيار چې ورکړل شوی ايا په سمه توګه يې کارولی دی او کنه؟ شاعر څه ښه وايي:

**«بې ليکواله بې قلمه خلک مړه دي**
**په دنيا کې د ژونديو په شمار نه دي.»** (زغم.ليکوالي، ۱۳۹۴: ۲)

په بشري ټولنو کې لوستی او قلمي پوړ د هغه ټولنې تر ټولو وګړو زيات د ټولنيزې لوړتيا، روښانتيا او پر ځان بسيايني مسوؤليت پر غاړه لري. دغه قلمي پوړ که خپله قلمي ورتيا په پوره پام ونه کاروي، د ټولنې مترقي ريښې له حرکت او د پرمختګ له تغذيې پاتې کېږي. موږ وينو او د وخت تجربو ثابته کړې ده چې د هېواد په وروسته پاتې والي او ځوړتيا کې تر نالوستيو، لوستي او قلمي کسان زياته ونډه لري چې دا بيا د هېواد په ملي ښوونيزه او روزه نيزه روحيه ناوړه اغېزه ښندي. د قلم ناسمه کارونه، د قلم عظمت، تقدس او ارزښت د نسلونو د ذهني امواجو په اهتزاز کې ستونزې جوړوي او خلک د سمونې، سالمې کړنې، ښنستيزې اخلاقي او تربيوي روحيې او هوښيارۍ څخه ساتي. په يوه ټولنه کې چې قلمي منافقت او ناسمه قلم څرخونه د مادي او نورو ناسمو موخو په خاطر دود شي نو خلک يې د علم په ارزښت او انسانيت جوړونې په حقيقت لاس تر زنې شي. ځينې وختونه موږ له يو شمېر عمر خوړليو کسانو په غونډو، کورونو او کليو کې اورو چې وايي زوی...مې په کمپيوټر...کې شيطانت زده کړی. جمله د بڼې له مخې شايد يوه تکراري او عادي جمله وي؛ خو په مانيز لحاظ دغه جمله وزن لري. هغه زيان چې زوی يې چا/شي ته د کمپيوټر د زده کړې له وجې اړولی، يادوي يې. په علمي لحاظ کله چې يو لوستی کس ناسم کار ترسره کړي پر ده نه بلکې؛ د ده پر زده کړه نيوکه کېږي. هر شخص که غواړي چې دی، علم او قلم يې د وجدان له قاضي څخه په هسکه غاړه تېر شي او د ټولنې د تلپاتې بقا او هوساينې په زېور سمبال شي، اخرت ته يوه ښه توښه برابره کړي، د خپل قلم او زده کړي علم کارونه دې ور او په پام سره ترسره وکړي. د قلم چلونه د عدالت او قانون پر محور انسان خپل ټاکلي سالم هدف ته رسوي او د ټولنې هغه هيلې چې ټولن مېشت يې ترې لري پوره کېږي، چې دا بيا د يوه حاکم نظام په ښه ټاکنه، غوره رهبرۍ او په وړ انساني قوې ټاکنې دلالت کوي.

# سرمایه ګذاري په چا وکړو؟

لیکوال: مفتي وقایت الله وقار

زمونږ له نیمې زیاته ټولنــه ناپوهه ده او کومه برخه چې مو لوستې ده؛ نو له تربیې سره په لانجه دي او څوک چې پوهه او تربیه دواړه لري، ددې ټولنې د نجات فرښتې همدوی دي. څوک که پوهېـــږي او که نه؛ نو هڅه کـــوي چې که خپله هر څنګه وي؛ نو باید خپل بچیان یې ښــه وروزل شـــي او راتلونکی یې باید د علم او روزنې په رڼا کې وي.

ځیني داسې دي چې ښــه مادیات لري؛ نو د خپلو بچیانو لپاره د ښـــو ماڼیو په ودانولو، د ښو ځمکو په رانیولو او د ښو امکاناتو په برابرولو نهایي تلاش کوي او دا فکر یې دی چې څومره زیات مادیات خپلو اولادونو ته پرېږدي؛ نو هغوی به هومره نېکمرغه وي، دا په داسې حال کې ده چې نېکمرغي یوازې په مادیاتو کې نه ده، له همدې کبله خو اســـلام نه په مادیاتو تل ټینګار کوي او نه ترې صرف نظر شوی دی.

د سرمایه ګذارۍ دغه بڼه چې یوازې په مادیاتو پوښلې وي، ډېره پیکـــه ده، ځکه چې اولادونو ته کلـــه مادیات په لاس ورشـــي او له فکر، پوهې او روزنې خالي وي؛ نو د ژوند په بدمســـتیو کې یې ورکوي او مال داسې نښه لري چې د دنیا بـــل هیڅ نعمت یې نه لري، دوی نو ډول ډول فســـادونو او ګناهونـــو ته د پلرونو د مال په برکت مخه وکړي چې په ګناه او فساد کې یې ورسره پلرونه هم شریک وي او دا ځکه چې هغوی یې د علم او تربیې په ځای د جېب ډکون ته کار ویلی وو.

د سرمایه ګذارۍ یوه بله بڼه داسې ده چې یوازې په پوهه او روزنه پکې ټینګار وي، د ډېرو خلکو هڅه داوي چې بچیان یې باید ښــه علوم تر لاســـه کړي او بېلابېل سندونه وګټي، دوی فکر کوي چې بچیانو ته یوازې د علم او تربیې ارزښت وښـــایې او په دې اړه ورته امکانات برابر کړې؛ نو دا هر څه دي، مادیـــات به د وخت په تېرېـــدو دوی ته خپله په لاس ورځي او خپل ژوند به جوړوي.

دلته نو زمونږ د ډېرو هڅه داوي چې یوازې په خپلو بچیانو تمرکز وکړي او هغوی ته پاملرنه خپل مسؤلیت ګڼي، دوی فکر کوي چې د زوی تر څنـــګ که په خپل وراره باندې یو ســـل ګون سرمایه ګذاري کړي او هغه له علم او تربیې سره وتړي؛ نو دا به ورته ګټه ونه لري.

د ســـرمایه ګذارۍ تر ټولو ښـــکلې او اړینه بڼــه داده چې د مادیاتو او معنویاتو دواړو په پاملرنې ســـره وشـــي، معنی دا چې هم په مادي او هم په معنوي لحاظ باندې په نوی نسل کار وشي، هغوی تیار خواره عادت نه شي، په خپلو مټو تکیه وکړي او د خپل لاس ګټې تـــه کار ووایي، ددې تر څنګ له دیني او عصري علم ســـره وتړل شي او په دې اړه هم بېلګه نسل ترې جوړ شي. زه خو وایم چې زمونږ نوی نسل باید په تعلیمي او تحصیلي جریان کې (اقتصادي قیام) ته وهڅول شي او ځیر کړل شي چې سر له اوسه په داسې تګلاره فکر او خیال ولري چې له مخې یې راتلونکي کې ټولنه کې خپل حیثیت هم وســـاتلی شـــي او ټولنې ته د پرمختګ، علم او روزنې مبارزه هم وګټي.

د (خیر الناس من ینفع الناس) بهترین خلک هغه دي چې نورو ته یې ګټه رسېږي، په اساس سرمایه ګذاري یوازې په خپلـــو بچیانو نه ده په کار، بلکې د اســـلام روح دادی چې خپل او پردي ته په دې اړه ونه کتل شي؛ د مسلمان نښه داده چې د خیر او ثواب هر فرصت ورکول کېږي؛ نو دریغ ترې نه کوي. له همدې کبله نو څوک پېژنو او که نه؟ که مو خپل بچیان وي او که نه؟ نو هڅه باید وکړو چې سرمایه ګذاري پرې وکړو، ممکن په خپل نسل ډېر نظر ولرو؛ خو زما موخه داده چې پردي هم باید دومـــره پردي ونه ګڼو چې له ثواب څخه یې هم مایوســـه وو او دا وطن په همدې احســـاس را پورته کېدای شي.

## په کابل کې د ازبکستان سفیر...

سوداګرو او د ټرانســـپورټي برخې د کارکوونکو ځینې ســـتونزې له ازبکستاني پلاوي ســـره شریکې کړې او ویلي یې دي: که افغان تاجرانـــو او موټر چلوونکو ته پر وخت ویزې ورکړل شي؛ په دوه اړخیز تجارت کې به لازم پرمختګونه رامنځته شـــي او دواړه هېوادونه به په کافي ډول ترې ګټه پورته کړي.

## لغمان کې د څرځایونو ...

ســـیمه کې د غوراســـکو ۳۰ کیلوګرامه تخمونه او ۵۰۰ کیلـــو د وحشـــي رشـــقې تخمونه هم کرل شـــوي دي.د لغمان دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاســـت هلې ځلې کوي، چـــې د همکارو مؤسســـو او ددې ولایت د خلکو په همکارۍ ددې ولایت طبیعي ســـرچینې خوندي او بیا رغولو ته یې زمینه برابره کړي.

## کار و بار مواد مخدر درافغانستان...

با مواد مخدر معلومات داد.

او گفـــت: فرمـــان امیرالمومنیـــن «حفـــظ اللـــه» در خصوص منع هر نوع کار و بار مواد مخدر درافغانستان صادرشده است که مطابق آن عمل می شود.

او همچنان در مورد حمایت، درمان و آموزش معتادان در کشـــور نیز مطالبـــی را بیان کـــرد و از نکاتی درباره تفاهم افغانســـتان و جامعه جهانی در امر مبارزه با مواد مخدر نیز یاد کرد و خواســـتار حمایت جهانی از روند مبارزه با مواد مخدر در افغانستان شد.

بایـــد گفت که به اســـاس گزارش اخیر ســـازمان ملل، افغانســـتان دیگر بزرگ ترین تولید کننـــده مواد مخدر درجهان نیســـت بـــل کار و بـــار مواد مخـــدر در این کشوربه شدت کاهش یافته است.

## وزارت شهر سازی و مسکن ...

تهیه شـــده اســـت.با تطبیق پروژه‌های فوق در سطح کشور، شهروندان و باشندگان مناطق متذکره از تمام خدمات شهری مشتمل بر ترانســـپورت دقیق، راحت و مطمئین، انرژی برق متداوم و با کیفیت، آب صحی و پاک، تشـــیلفون و انترنت، محیط زیست سالم و هوای پاک مستفید خواهند شد.

## یو چینایی شرکت غواړي...

موخه یې په افغانســـتان کې د بازار لپاره د مســـلکي قوې روزنـــې لپاره د یوه حرفوي انســـتیتوت جـــوړول دي.د یاد شرکت مسئولینو همدارنګه په افغانستان کې پر بشپړ امنیت خوښـــي څرګنده کړې او ویلي یې دي چې زیات شـــمېر چینایي شرکتونه په افغانستان کې د پانګونې لېوالتیا لري.د تخنیکي او مســـلکي زده کړو اداري سرپرســـت هم د دې اداري په اړه معلومات ورکړي او ویلي یې دي چې په هېواد کـــې د بیوزلۍ له منځه وړل او د کار بازار لپاره د مســـلکي قـــوې روزنه د دغې اداري له اساســـي موخو څخه ده.هغه زیاته کړې چې اوســـمهال تر هر وخت ښـــه، په افغانستان کې د بهرنیو شـــرکتونو لپاره د پانګونې فرصتونه برابر شوي دي.تر دې وړاندې هم څو چینایي کوچنیو او لویو شرکتونو د افغانســـتان په بېلابېلو برخو په ځانګړې توګه د کانونو په برخه کې د پانګونې لېوالتیا څرګنده کړې وه.

## په روغتیایي خدمتونه...

خدمتونو سېســـتم د خلکو له اړتیاوو سره برابر نه دی او دا د هېواد د روغتیا ریاســـت د ټولو منسوولینو دنده ده، چې د معیارونو په نظر کې نیولـــو، کیفیت او د ټولنې د ټولو طبقو لپاره یو شـــان خدمتونه د برابرۍ په برخه کې هڅې وکړو.په دې لیدنه کې د جوزجان د عامې روغتیا رییس قاري ذبیح الله حسیني او د دغه ریاست یو شمېر ډاکترانو د معاشونو د کمښت، د معیاري ودانیو د نشتوالي او ولایتي روغتون سرک د خرابوالي په برخه کې خپلې ځینې ستونزې او وړاندیزونه د عامې روغتیا وزارت له سرپرست سره شریک کړل چې د عامې روغتیا وزارت سرپرســـت د ستونزو د حل ډاډ ورکړ.د یادونې وړ ده، چې د دغه ســـفر په ترڅ کې د هېواد د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد د ولایتي روغتون له بېلابېلو څانګو، د افغان-ترک روغتون (ماشـــومانو) او د روړېدو کسانو د درملنې له روغتون څخه هم لیدنه وکړه.

## معین سیاسی وزارت امورخارجه..

اظهار سپاس کرد.

شیر محمد عباس ســـتانکزی هم به نوبه خود از کار کرد مثبت و فعال فران ایکویزا اظهار ســـپاس کرد و در اجرای ماموریت های بعدی برای او اظهار موفقیت کرد.

## هلمند کې د غنمو اصلاح شوي ...

چې تر دې وړاندې ورته د ســـویابینو تخمونه ورکړل شـــوي وو. د یادې مرســـتې په ترڅ کې هر کرونده ګر ته ۵۰ کیلو ګرامه د غنمو اصلاح شـــوي تخم، ۵۰ کیلو تور او ۵۰ کیلو ســـپینه سره ورکول کېږي.ددغو اصلاح شـــویو تخمونو او کیمیاوي سرو د وېش موخه د غنمـــو د تولیداتو زیاتوالی، د تولید د کیفیت ښـــه والی او په ټوله کې د بزګرانو عوایـــدو زیاتوالي ته زمینه برابرول دي.

## د کورنیو چارو سرپرست وزیر ...

هـــم یاد روغتون تـــه راوړل کېږي، چې اوس مهال په کې تر دوه نیم ســـوو پورې ناروغان بستر دي.ډاکټر سخي سردار د کورنیو چارو سرپرست وزیر ته د روغتون د تشـــکیل لوړولو، د ای سي یو خونې، سټي سکین، ایم آر ای ، نســـایي ولادي او ماشـــومانو ته د ځانګړو څانګو د جوړېدو په برخه کې وړاندیزونه کړي او د عامې روغتیا وزارت ترڅنګ یې د نړیوالو مرســـتندویه ادارو او روغتیا برخه کې همکارو بنسټونو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړې.د کورنیو چارو سرپرســـت وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د ملکي تخصصي روغتـــون لپاره د یو باب جومـــات د جوړېدو د منظـــوري ترڅنګ د عامې روغتیا او ملکي تخصصي روغتون مســـؤلینو ته لارښـــوونه کړې، چې د ای ســـي یو خونې، نسایي ولادي او ماشـــومانو څانګو د جوړېدو په موخه دې خپل پلان، ډیزاین او نقشـــې برابرې کړي، تـــر څو په دې برخه کې اجراات ترسره شي.سرپرســـت وزیر روغتون کې د ناروغانو احوال اخیستی، هغوی ته یې د ښـــه صحت دعا کړې او تر څنګ یې ورسره نغدي کومک هم کړی دی.د یادونې وړ ده، چې له سرپرســـت وزیرســـره د رابطې عمومي مسؤل حاجي جمیل مســـلم او د خوســـت د اقتصاد رئیس مولـــوي اختر محمد عکرمه هم ملتیا کوله.

## برگزاری نشست بزرگ مردم...

بودند و مردم را نمی‌گذاشتند تا در برابر بی عدالتی  صدای شانرا بُلند نمایند.

این بزرگان همچنان گفتند که اتحاد و همبستگی ملت مسلمان افغانستان باعث استحکام نظام اسلامی می‌شود که باید همه در راستای وحدت ملی کار کنند تا ما بتوانیم که نظام اسلامی خود را استحکام بخشیم. بزرگان در برنامه نیز اشاره نمودند که اکنون امنیت در سرتاسر افغانستان وجود دارد و شهروندان می توانند به تمام ولایات کشور آزادانه سفر نمایند. بزرگان همچنان اشاره نمودند که تمام اقوام کشور در فضای امنیت بدون تبعیض مذهبی و قومی به‌سر می‌برند و حتا مردم اهل تشیع ما برنامه‌های مذهبی شـــانرا در تمام ولایات کشور در فضای امنیت برگزار می کنند و تمام اقوام کشور در امنیت به‌سر می برند.

علمای و بزرگان نیز اشـــاره نمودند که حقوق زنان در کشور تامین است چون به باور اینها اکنون در کشور جنگ نیست و ما شاهد نیستم که زنان بیوه شوند و مادران فرزندان شانرا از دست بدهند.

آنان نیز اشـــاره نمودند که زنان و کودکان در غزه کُشته می شوند و حقوق آنان آنجا زیر پاه می‌شود و اما نهاد های بین‌المللی صدای شانرا بخاطر حقوق زنان و کودکان غزه بُلند نمی کنند و اما می گویند زنان در افغانستان حقوق ندارند.

محمد خالد حنفی سرپرســـت وزارت امر به معروف و نهی عن‌المنکر در این نشست بزرگ مردمی گفت:

«در بیست سال گذشته مجاهدین روی دو هدف جهاد را شروع نمودند؛ یکی گرفتن استقلال کشور از اشغال گران و دومی ایجاد نظام اسلامی که ما مجاهدین زیادی را بخاطر احقاق این دو هدف در زمان جهاد از دست دادیم»

وی نیز اشاره نمود که در دوسال گذشته جهاد بالای مافرض بود که کشور را از اشغال خلاص نماییم اکنون اما برای ما فرض است که در استحکام نظام اسلامی همه تلاش نماییم.

این مقام امارت اسلامی افغانستان نیز از دستاوردهای امارت اسلامی اشاره نمود که در دو نیم ســـالِ گذشـــته رهبری امارت اسلامی توانست که  تمام گداها و معتادین را از جاده‌های شـــهر کابل و ولایات کشور جمع‌آوری نماید و اکنون معتادین کشور در ورکشاپ‌ها مشغول فرارگیری تعلیم هستند.

آقای حنفی همچنان اشاره نمود که ساخت وسازِ سرک‌ها و چهار راه های کابل در ولایات کشور این همه از برکت امارت اسلامیِ افغانستان است.

از سوی دیگر  ملا یعقوب مجاهد وزیر دفاع امارت اسلامی افغانستان، در این نشست بزرگ مردمی گفت:

«جوانان زیادی را بخاطر روی کار آمدن امارت اســـلامی از دست دادم و اکنون تنها با اتحاد و همبستگی می توانیم که در استحکام امارت اسلامی کار نماییم»

وزیر دفاع امارت اســـلامی افغانستان نیز  اشاره نمود که ما نباید اجازه دهیم که در بین اقوام کشور با تبلیغات منفی نقاق ایجاد گردد. وی با اشاره به آیات قرآن کریم علاوه نمود که وجود اقوام مختلف بخاطر شناخت یک‌دیگر است و در نزد الله کسی بهتر است که تقوا دارد. وزیر دفاع کشور نیز اشاره نمود که علمای کشور مکلف هستند که در تمام ولایات کشور برای اتحاد و همبستگی کشور تلاش نمایند.

مولوی عبدالکبیر، معاون سیاســـی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان در برنامه بزرگ مردمی گفت: «جای خرسندی است که آرمان و آزوی بیست ساله‌ی مجاهدین ما در کشور تحقق یافته است»

این مقام امارت اسلامی افغانستان اشاره نمود که در شکست ناتو و آمریکا تمام مردم مسلمان افغانستان سهم داشتندو به اشغال نقطعه‌ی پایان گذاشتند»

وی نیز اشـــاره نمود که بزرگان ما در زمان جهاد در برابر شوروی مبارزه کردند همان گونه که مجاهدین در بیســـت سال گذشـــته در برابر امریکا وناتو مبارزه نمودند.

قابل یاد دهانی اســـت که این برنامه به ابتکارِ وزارت امور ســـرحدات، اقوام و قبایل امارت اســـلامی برگزار گردید که بزرگان و علمـــای  ۷ ولایت مرکزی کشور اشتراک داشتند و حمایت شانرا در قسمت استحکام نظام امارت اسلامی افغانستان اعلام نمودند.

**ببرک قیومی**

## د اکتوبر د ۷مې ۲۰۲۳ تر ...

چـــې ۱،۷ میلیونه یې د کډوالو لپاره په ځانګړیو شـــویو پنډغالو کې د ژوند سختې شپې او ورځې تېروي.-دغې جګړه کې په مستقیمه او غیرې مستقیمه توګه تر ۳۰ زرو پورې کسان وژل شوي \ شهیدان شوي، چې ۲۷ زره ۵۸۵ تنه یې فلســـطینیان او پاتې نور یې اسرایلیان، یمنیان، سوریایان، لبنانیان، عراقیان او ایرانیان دي.

-جګړه کې صهیونســـت پوځونو هم د پام وړ زیانونه لیدلي، رسمي شمېرې ښـــیي، چې تر ۵۵۰ زیات سرتېري یې وژل شوي، خو غیرې رسمي شمېرې، چې ممکن تر ډېره ســـمې هم وي، د صهیونست پوځونو د مرګ ژوبلې شمېره زرګونه تنه یادوي.

**یادونه:** په وژل شویو کې ملکي وګړي، ژورنالېستان، روغتیایي او مرستندویه کارکوونکي او نور شامل دي.

غزه کـــې د روانې جګـــړې (۷ اوکتوبر ۲۰۲۳ تر ۷ فبـــروري ۲۰۲۴) مالي زیانونه:

**مالي زیانونه:**

- دغـــې جګړه کې ۳ ســـوه او ۶۰ زره د اوســـېدو کورونـــه، ۳۹۰ تعلیمي او تحصیلي مرکزونه، ۲۷۶ مسجدونه، کلیســـاګانې او نور عبادت ځایونه، ۱۳ روغتونونه، ۱۲۲ امبولانسونه، ۱۱ نانوایانې او سېلوګانې او نور سړکونه، ودانۍ، پارکونه او نورې ودانۍ یا په بشپړه توګه ویجاړې شوي او یا هم زیانمنې شوې دي.د دغو مالي زیانونو کره شـــمېره نه ده معلومه، خو حالاتو ته په کتو ممکن میلیاردونو ډالرو ته ورسېږي.

## نړۍ په غزه کې د صهیونیستي...

پـــر احکامو اوعقایـــدو ګروهمن بلل کېـــدای شي؟ نه هېڅکله نه،بلکې واقعیت دادی چې د داسې حاکمانو،لویانو او سردارانو د مسلمانۍ دعوا سراسر دروغ ده . د اسلامي نړۍ د زیاترو واکمانو یوه بله نه بښنـــل کېدونکې جریمه ده، چـــې د امت له عامو وګړو یې د محاصرې کړۍ چاپېره کړې، هغوی یې خپلو کې وېشـــلي او هریوه یې څه برخه خپل ځان ته بېله کړې او برمته یې نیولې او دا وخت همدوی دي چې د غزې په شـــان محصورو مسلمانانو مرســـتې ته هم کوم مؤمن مجاهـــد نه ورپرېږدي ـ پـــه تېره بیا د فلسطین خواو شا چاپېره تش په نامه د اسلام مدعي واکمنان،دوی بیـــا په دې دوه زره میلیونه مســـلمانانو کې تـــر هرچا زیات لوی مجرمان دي، ځکه همدوی دي چې له وحشي صهونیستانو سره آن دوستۍ ، یارانې او معاملې هم کوي!مطلب دا چې په موجوده دوه میلیارده مسلمانانو کې پرته له شکه دومره ایمانداره مجاهدین خامخا شـــتون لري،چې دا آته میلیونه یهود او صلیبي یاران به د زرو مجاهدینو په سریو یو هم و نه رسېږي،خو بیا هم بیا زښته ډېر افسوس دی چې همدغو پردیپالو امیرانو فلسطین ته د ورتګ ټولې لارې داســـې کلکې تړلې،چې آن یوه مرغۍ هم نه شي ورتلی او که د خوراک څښـــاک څه توکي وراستوي،نو هغه هم په ډېر ویاړ او خوشحالۍ د خپلو صلیبي انډیوالانو په لاس ورلېږي او توزیع کـــوي. لنډه دا چې ټول امت تر ســـترګو لاندې د غزې د مظلوم ولس د قتل عام ننداره او بیا یې پر وړاندې همداسې بې احساسه پاتېدل یو مخ زموږ له دیني سپارښتنو سره په ټکر کې دي.بناءً هر هغه مومن چې د خپل خالق او مالک پر وړاندې له درېدو څخه وېره لري، ښـــایي هېڅکله غلی او بې غمه پاتې نه شي،نو هر با احساسه مســـلمان ته بویه،چې تر خپلې وسې یو څه وکړي او د امت پسه وحدت او وینښتابه کې حتماً څه اغېز ولري.

## سعودي له اسرائیلو سره...

چـــې د یو خپلواک فلســـطین تر رامنځتـــه کېـــدو او د ۱۹۶۷ زېږدیز کال د ســـرحداتو په چوکاټ کې ختیځ بیت المقدس بېرته د فلســـطین د پلازمېنې په توګه تر رســـمي منلو او دغه راز د فلســـطینیانو د ټولو حقونو تر بېرته ورکولو پرته له اسرایلو سره هېڅ ډول دیپلوماتیکې اړیکې نه ساتي.ریاض ویلي، چې د سعودي شاهي کورنۍ د فلســـطینیانو له مشروع حقونو څخه دفاع کوي او په دې اړه یې امریکا ته خپل دریځ روښـــانه کړی دی.دا په داسې حال کې ده، چې پرون سه شنبې سپینې ماڼۍ ویلي وه، چې د سعودي او اسرایلو ترمنځ د اړیکو د عادي کولو په اړه یې مثبت پیغامونه ترلاسه کړي.د یادونې وړ ده، چې امریکا له مودو راهیســـې هڅه کوي، تر څو له اسرایلو سره د سعودي او ځینو نورو هېوادونو اړیکې عادي کړي او ریاض دغه دریځ وروسته ترهغې روښانه کړی، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن تازه سعودي ته ورغلی و او له ولیعهد محمد بن سلمان سره یې کتلي دي.

Shariat Daily

# Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳٥۸٥۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲٥۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Thursday 08 Febuary 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 378

## مولوی عبدالسلام حنفی؛ از موسسه آی، اچ، اچ خواست در ساخت مسکن با عودت کنندگان همکاری کنند



مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا ازیک نهاد مدد رسان خواست در ساخت مسکن با عودت کنندگان همکاری کنند. دفتر مطبوعاتی معاونیت اداری ریاست الوزرا، درخبرنامه‌یی گفته است که مولوی عبدالسلام حنفی با مسوولان موسسه خیریه (آی، اچ، اچ)، در کابل دیدار کرد.

مولوی عبدالسلام حنفی با قدردانی از فعالیت‌ها و کارکردهای این موسسه در کمک برای مردم و موثر خواندن این کمک‌ها، ازمسوولان موسسه یادشده خواست در قسمت ایجاد فرصت‌های شغلی و اعمار مسکن برای عودت‌کننده‌گان همکاری کنند.

در این دیدار مجاهد کلیچ به نماینده‌گی از مسوولان موسسه‌ای خیریه (آی، اچ، اچ) دررابطه به فعالیت‌ها، کارکردها و برنامه‌های این موسسه به معاون اداری ریاست الوزرا معلومات داد و گفت که موسسه یادشده تا اکنون درعرصه اعمار مساجد، رشد زراعت، حفر چاه‌های آب و اشتغالزایی و کمک به خانواده‌های شهدا، معلولان و درمان بیماران کارهای زیادی در افغانستان کرده است و همچنان در پی گسترش فعالیت های شان در این کشور اند.

## معین سیاسی وزارت امورخارجه با نماینده یونیسف در افغانستان دیدار کرد



شیر محمد عباس ستانکزی معین سیاسی وزارت امور خارجه با فران ایکویزا، نماینده یونیسف در افغانستان دیدار تودیعی کرد.دوره ماموریت فران ایکویزا در افغانستان پایان یافته است،اوهنگام دیدار با معین سیاسی وزارت امورخارجه، دوره کاری اش را در افغانستان، پر خاطره خواند و از همکاری مقام امارت اسلامی ص۵

## وزارت شهر سازی و مسکن زیربناهای پانزده پروژه ساختمانی و شهری را طرح و دیزاین کرد

دفتر مطبوعاتی وزارت شهر سازی و مسکن دیروز با نشر این خبر گفته است: اداره زیربنای شهری آن وزارت، زیربناهای ۱۵ پروژه ساختمانی و شهری مرکز و ولایات را که شامل حمل و نقل، آب و فاضلاب، برق، تأسیسات تصفیه‌خانه و مدیریت زباله را نیز احتواء می‌نماید طرح و دیزاین کرده است.این ریاست پلان‌های زیربنایی سرک و شبکه های برق پوهنتون میدان وردک و شهرک معلمین ولسوالی چرخ ولایت لوگر را طرح کرده است.

به همین قسم برنامه سرک‌سازی بند کوسه ولسوالی ورس بامیان، چهار باغ ولسوالی دوشی بغلان، سرک‌سازی شهرک داود خان میدان وردک، سرک‌سازی پارک‌های صنعتی شبرغان و ۱۷ کیلومتر سرک زون اقتصادی باریک آب کابل طرح و ترسیم شده است.همچنان دیزاین ساخت توقفگاه وسایط مسافربری درمیدان وردک و طرح ساخت مساجد در مسیر شاهراه کابل قندهار ص۵

## د نشه يي توکو د قاچاق په تور ۲۳ کسان ونيول شول

کورنيو چارو وزارت د هېواد په ۷ ولايتونو کې د نشه يي توکو د قاچاق او پلور په تور د ۲۳ کسانو د نيولو خبر ورکړی دی. دغه وزارت زياته کړې چې پوليسو په هېواد کې د نشه يي توکو د قاچاق او خرڅلاو په تړاو عملياتو کې ۸ تنه په ننګرهار، ۴ تنه په نيمروز، ۳ تنه په بغلان، ۳ تنه په پروان، ۲ تنه په خوست، ۲ تنه په هرات او يو تن په باميان ولايت کې نيول شوی دی.سرچينې همدراز ويلي چې له نيول شويو کسانو څخه ۱۰ کيلوګرامه چرس، ۲۱ کيلو ګرامه اېف، ۳ تومانچې او يوه اندازه هيرويين، ښيښه او نشه يي ګولی ترلاسه شوې دي.

معین مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله:

## کار و بار مواد مخدر درافغانستان به صفر تقرب کرده است




پاسوال عبدالحق همکار معین وزارت امور داخله با توماس نیکلوسن نماینده اتحادیه اروپا دیدار کرد.دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله با نشر این خبر گفته است: دراین دیدار معین وزارت امور داخله در باره اقدامات، فعالیت ها و دستاوردهای این اداره در امرمبارزه ص۵


## بازگشت مهاجران از ایران به کشور ادامه دارد



دسته یی دیگری از مهاجران افغان شامل یک هزار و ٦۱٥ نفر از ایران بکشور برگشتند.

دفترمطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان امروز با نشر این خبر گفته است: یک هزار و ٦۱٥ نفر مهاجر مقیم ایران ازطریق اسلام قلعه هرات به کشور برگشتند. از میان این افراد ٦۷٤ نفر شان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر غذایی را دریافت کردند. ٦۸ کودک بی سرپرست به موسسه دبلیو ای ار جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی وهمچنان برای ٦۱ خانواده ۱۰ هزار افغانی ، برای ۷۹ تن یک عدد سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است. و ۳۷٥ تن دیگر از خدمات صحی نیز بهره مند شدندوزارت عودت مهاجرین همچنان گفته است: بیش از ۲۱۰ افغان مهاجر از پاکستان اخراج و از گذرگاه های مرزی تورخم و سپین بولدک وارد کشور شدند و کمک های لازم را دریافت کردند.

## لغمان کې د ځرځايونو بيارغونې په پار هڅې



د لغمان دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د ملګرو ملتونو دخوړو او کرنې ادارې په همکارۍ ددې ولايت د طبيعي سرچينو او ځرځايونو د خونديتوب او بيارغونې په پار هلې ځلې پيل کړي دي.ددغو هلو ځلو په ترڅ کې د لغمان قرغه يي ولسوالۍ ګنداب کلي کې د يو حشر په ترڅ کې د توتانو ۵۰۰ نيالګي کښېنول شوي دي او ترڅنګ يې په ياده ۵مخ

## آثارو بنا های تاریخی هرات ثبت جی پی اس می شوند

آثار، بناهای تاریخی وساحات باستانی هرات، ثبت جی پی اس می شوند.

احمدالله متقی رییس اطلاعات و فرهنگ هرات می گوید که این اداره، در نظر دارد تا تمام ساحات باستانی وبنا های تاریخی هرات را ثبت ردیاب ‹موقعیت جغرافیایی› یا جی پی اس کند تا از این طریق برای گردشگران خارجی سهولت فراهم شود و آنان بتوانند به آسانی از هربنای تاریخی که بخواهند، دیدن کنند.

# رویدادهای خارجی

## سعودي له اسرائيلو سره اړيکو ساتلو په اړه خپل دريځ روښانه کړ



د سعودي عربستان د بهرنيو چارو وزارت پرون چهارشنبې د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره له اسرايلو سره د ډيپلوماتيکو اړيکو د ساتلو او پيل په اړه د رياض دريځ روښانه کړی او ويلي يې دي ۵مخ

## بلبنکن د پنځم ځل لپاره منځني ختيځ کې دی

د امريکا متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن يو ځل بيا منځني ختيځ کې دی او ټاکل شوې نن سه شنبې مصر، قطر او اسرايلو څخه ليدنه وکړي.نوموړی پرون رياض کې و او له سعودي وليعهد محمد بن سلمان سره يې هم کتلي او منځني ختيځ کې يې د روان وضعيت په اړه ورسره خبرې کړې دي.د راپورونو پر اساس بلېنکن هڅه کوي د دغه سفر په ترڅ کې غزه کې د يو بل اوربند



ټينګښت او د روان کړکېچ دايمي پای ته لارې وګوري.دا په غزه کې د صهيونست اشغالګرو او فلسطيني جهادي ډلو ترمنځ د روان کړکېچ له پيل راهيسې د بلېنکن پنځم سفر دی.د يادونې وړ ده، چې امريکا کې د بايډن حکومت د غزې په روانه جګړه کې د اسرايلو اصلي ملاتړی دی او تر دا مهاله يې ورسره ميلياردونه ډالر مرسته کړې ده.

## امريکا او انګليس يوځل بيا د يمن خاوره په نښه کړې

د نړيوالو رسنيو د راپورونو پر اساس د امريکا او انګليس هوايي ځواکونو يو ځل بيا په يمن کې د صعده ښار په نښه کړی دی.دا په داسې حال کې ده، چې تېرو ۲۴ ساعتونو کې د يمن حوثي وسلوالې ډلې يو ځل بيا په سره بحيره کې د امريکا او سيمه کې يې د



خو امريکا ګواښ کړی، چې منځني ختيځ کې به ټولې هغه ډلې په نښه کړي، چې تهران يې ملاتړ کوي. واشنګټن د دغه ګواښ په پايله کې تر دا مهاله په عراق، سوريه او يمن کې څو ځلې هوايي بريدونه کړي، چې د امريکايي چارواکو د ادعا له مخې ائتلاف د نورو ملګرو هېوادونو ځينې پوځي او غيرې پوځي کښتۍ په نښه کړې دي.حوثي وسلوال وايي، چې دغه کار په غزه کې له حماس غورځنګ او نورو فلسطيني جهادي ډلو څخه د ملاتړ په درشل کې کوي، د هغو وسلوالو مرکزونه يې له منځه وړي، چې ايران يې ملاتړ کوي.که څه هم ايران په مستقيمه توګه د دغو ډلو ملاتړ نه تاييدوي، خو يمن کې حوثي وسلوالو ته د رسمي حکومت خطاب کوي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!